خالق رشید ۲۰۱۷/۱۱/۰۴

# دالـــکا انـــتي

# دوه رګـــــې کابلـــې ســـپې

زما هندکې بوډۍ ګاونډۍ نن بيا پرخپله برنډه باندې له خپل کوچني سپي سره راته مسکه مسکه کيده، خپل سپي يې راته پورته پورته کاوه، خو ما ورته کتل، په پيل کې يې په اشارو دومره پوه شوم چې بيا څه خبره وه چې سپي را ته پورته پورته کاوه... دا کار دا کله کله د بام له سره زما د خبرتيا او هيښتيا په خاطرکوي، مانايي داده چې بيا زموږ په وطن کې کومه درنه خبره شوې اويا روانه ده ، څکه داتل خبرونه اوري او چې کله مهم خبراو مهمې څيرې په تې وي کې وګوري ، نوبيا خپل ليده کاته ترما پورې په يو ډول نه يوډول را رسوي... دا زما هغه ګاونډۍ ده چې څو، څو ځلې سپـــيـــو ډارلې، خـــو بيايې هم زړه نه ترې صبريږي ، هرچيرې چې سپې ووينې او ياهم دسپيو کيسې، پردې هسې ښې لګيږي . هره ورځ يې د کورپه مخه کې د سپيو ليکه ولاړه وي ، څکه دا خپله سره له دې چې په ګيډه مړه نه وي، خـــو د هـــغـــو لپاره، له يوې اوبلې خوا خداى او وس يو څه برابروي، مانا دا چې بينوا يې د کور له مخې نه شړي.
ددې له لويوهيلو يوه داده چې کابل ته ولاړه شي اوهلته هم لکه د ډيلي دکوڅو اوسرکودسپيو پرحال باندې ځان خبرکړي ، اوبيالـه هغه ځايه يو ښايسته اوپه فشن برابرښکلي سپى هم له ځان سره راولي ... دا هسې عادي هندکى نه ده ، درس يې ويلى ، پرلويو دولتي څوکيويې هم کارکړى ، ډيرهيوادونه يې هم ليدلي ، د هرهيواد په تيره بيا دهغود سپيو په باره ژورمعلومات لري ... ان چې کله کله داهم وايي چې په لومړيو کې يې له سپو سره نه وه جوړه ، پيشوګاني او بيزوګاني به يې ساتلې ، خوکله چې يوکال د خپل ماما کره امريکا ته ولاړه ، هلته يې ليدلي وو چې ډيرخلک ترپيشوګانو سپيو ته ارزښت ورکوي څکه خو ډيرى امريکايان په کورونو کې سپي ساتي اوله پيشو ګانويې ښه نه راځي څکه دوى وايي ، پيشو چې مړه شوه بيا نه خاوند پيژني اونه يې په فکرکې وي خو سپي بيا داسي نه وي ، په هغوى کې د وفا اووفادارۍ يو رمز او يو رګ په هرحالت کې وي ...
مامايې کلونه مخکې د بنګله ديش د جګړو په شپوورځوکې له هندوستانه امريکا ته تللې دى ، هغه هم اوس دسپيو ددرملنې يو لوى کلنيک هلته لري ، يوعالم خلک کارپه کې کوي ، له سهاره ترماښامه پورې سرګرولو ته وخت نه لري ، دا وايي چې کله دا امريکا ته ولاړه شي اوهلته د خپل ماما کاروبار وګوري ، له سپيوسره دهغوى ليونى مينه وګوري ، دا پوهيږي چې سپي ياني څه ، دسپي عزت ياني څه ... تيرکال يې دماما دسپيو دکلنيک يوه کاري ډله ، افغانستان ته هم تللي وه ، څو هلته هغه سپي چې د دوى له سرتيرو سره دهغوى په متوهغه ملک ته تللي ، معاينه کړي ، که درملنې ته اړتيا ولري، درملنه يې وکړي او که نورې ستونزې ولري دهغو په اړه هم بايد چې امريکايې چاروا کوته مشورې ورکړي ... مانا داچې دا هسې ساده کلنيک نه دى بلکې د سپيو يوعصري او په نورو چمونو اوخمونو سمبال ښوونځى او روزنځي دى ... همداوه چې په تيروځو اوونيوکې به دې تل په دريغ سره داخبره کول:
- کاشکي مې ماما ته ويلي واى چې يوسپې يې ما ته له کابله راليږلى واى ... کابلي سپي زما ډيرخوښيږي ... کابلي سپي ... خوماته به خندا راغله چې دا وګوره او ددې دا لوى ارمان ... دا نه پوهيږي چې کابلي سپي اوس په داسي ناروغيو اخته دي چې نه ځان ويني اونه جهان ...
خوسږيې بيا جدى خپل ماماته ويلي وو چې ددې دا هيله خو ورته پوره کړي ...
دالکا ترور يوازنى هيله وه چې ، دا بايد په هندوستان کې يو کابلي سپى ولري ، داچې دى په کابلي سپي کې څه ليدلي وو، اوڅه ته يې خوشاليده په دغه رازيى زه هم نه پوهيدم ، ما ته ترهرڅه ددې دغې تلوسې ډيرخوند راکاوه اوبس ... خو کله کله به يې په شک کې هم واچولم ، نه چې له سپي څخه يې کومه بله موخه اومقصد نه وي ... څکه زموږ په زمانه کې زيات شمير انسانان تل دخپلو هيلواو خپلو موخو نوکران اوغلامان وي چې هغو ته در سيدو په خاطرله ډيرو ناروااو وسيلوڅخه په کاراخيستو باندې هم نه شرميږي ... خو نه دهغې په باره کې ما ته داسي څه نه بريښيدل اونه ښکاريدل ...



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولــئ

هو، ربښتیا را په یاد شوه ، تیره اوونی یې ترغوږ راتیره کړه چې په دې ورځوکي یې ماما بیا له خپلې ډلې سره د کابلی امریکایي سپیودیوه پراخ چک اف او درملنې په خاطر بګرام ته رسیدلی او دې ته یې ډاډ ورکړی و چې داځل به یی خامخا غم وخوري ، اویوښکلي ددې په زړه جوړ ... سپی به ورته را استوي ... ځکه خو تیره ټوله اوونی دا له خوشالی په پچه سپره وه او له ډیرې مستی یې کشمیرلیده . هره شیبه به یې چې زه لیدم دا به را ته موسکانه وه ... څه به یې له ځان سره ویل خو ما ته یې غږ نه رارسیده ...

څه سرموخوړوم ، نن هم چې له لرې لرې راته موسکی موسکی کیده ، له کابله هم هغه سپې ورته را رسیدلی و ، ځکه یې ټوله ورځ په غیرکي نیولی و، زه به یې چې ولیدم ، نوبیابه یې پورته پورته را ته اچاوه ... اومانایی داوه چې بس را ورسید ...

د الکا ترور لوی ارمان نن پوره شوې و ، یوه دوې ورځې خویی دومره ونازاوه چې یوه شیبه یې هم له ځانه نه لرې کاوه ... زه په هغو ورځوکي په یوه اړینه لیکنه بوخت وم ، وخت مې نه درلود چې ددې کره ورشم ، اوځان په اصله خبره باندې پوه کړم ... لا یوه اوونی نه وه پوره شوې چې یوه ورځ مې ددې د دروازې مخې ته د سپیو دکلنیک موټرولید، پوه شوم چې سپی یې ناروغه دی ... خو په دې نه پوهیدم چې ځوان که زوړ ... ځکه خویی د سپیو ډاکټر ورته رابللی دی ...زه تراوسه هم نه وم خبر چې دې ته یې ماما له کابله نوی سپی رالیږلي دی . پرته له دې چې دروازه ور وټکوم ورننوتم ، د کور په وره کې یې پخواني سپی زما تر پښو تاو را تاوشو ، غږمي وکړ چې زه یم ، الکاترور داسي ښکاریده چې هم له ما خواشینی وه اوهم خپل نوي سپي ته اندیښمنه ، ګیله یې داوه چې دې ته یی ماما له کابله سپی را لیږلی و او زه یې مبارکی ته نه وم ورغلی ، اوس چې زه ورته راغلم ، دهغې دغه نازولی سپی له پرون راهسي سخت ناروغه شوی . دې خو ویل چې هوایی بدله شوې ، دکابل او ډیلی هوا خو مځکه او آسمان فرق لري ، ما چې ددې نازولي سپي ته وکتل ، هغه هم ماته کابلی معلوم نه شو ، ځکه ماته ښکاریده چې موږ په وطن کې داسې سپي نه لرو ... ما چې هغه ولید ، زموږ دکلي دآدم خان آکا خبره را یاده شوه :

- بس حال نه دی معلوم ، دهرسپي اوسرې چې اصل ونسل ورک شي ، نوبیا ځآن پرموږ راګډوي اوزموږ په نامه دلالي کوي ...

یوه ګړی مې له ځان سره سوچ وکړ، په فکرکي راتیره شوه ، داسي لکه چې یوڅوک راته وایي :

- ته هغه پخوانی خوبونه مه وینه ، اوس هلته هم دهرڅه په نسلونو کې فرق راغلی دی او راځي ، دسپیو هغه نسل چې دکلي په دروازه به څوک نه شوای تږې تیریدای اوس په خوب ووینه ... هغه شرنګ و پرنګ هغوی ته هم اوس نه دی ورپاتې ...

یوڅو شیبی له ترور سره کیناستم ، نازولي سپي یې زګیروي کول ، داهم ورته خواشیني وه ، خوهمدایوه خبره یې کوله ، چې هوایی بدله شوې ، ښه به شي ... نن ډاکتر وکوت هغه هم وویل چې کیدای ... زه په روانیدوکي وم چې الکا ترور مخ راواړاوه :

- خوند یې درکړ ، کابل یې درپه یاد کړ ؟

ما ورته وخندل :

- ماته ستا داسپی کابلی نه بریښي ...

سره وغوړنجیده :

- څه وایي ؟

ما بیا ورغبرګه کړه :

- ما په خپل ټول ژوندکي داسي او دې ته ورته نسل په خپل وطن کې نه دی لیدلی ...

دې بیا په داسي ژبه چې ګواکي زماخبره درنه پرې تمامه شوه راغبرګه کړه :

- ته زوړشوی یې ... له تانه کابل هیرشوی ... داځنګه کابلی نه دی ...

زه نورتري راووتم ، داسي ښکاریده چې ترور زما پردغه خبره باندې ، نه یوازې چې نارامه شوه ، بلکی خپه هم شوه .

په هم هغه شپه یې خپل ماما ته زما داشکمنه خبره کړې وه ، هغه یوازې ورته وویلی وو چې ، ته یې لیکلي ریکارډ وګوره ، هلته دده په اړه ټول معلومات لیکل شوي دي ، هغه لاداهم ورته ویلی وو چې دا دوه جوړه یې دي ،له هغې ورځې چې امریکایان دلته راغلي دوی هم یوځای له دوی سره هستیدلي دي ، دا لومړي ځل دی چې دادواړه له یوه بله بیلیږي ، کیدای شي د ناروغي یو لامل داهم وي چې هغه د یوازېتوب احساس کوي ... امریکایانودا دواړه دلته جوړه ساتلي ...

یوه اوونی لا نه وه تیره شوې چې الکا انتي زموږ دروازه را وډبوله ، سپی یې هم جوړ شوی و، هغه یې هم تر پړې رانیولی و ، دابه چې تل زموږ کره راتله ، خپل سپی به یې په دروازه کې پریښود. نن یې هم کټ مټ کانه وکړه . دا دننه راغله ، ما یې سپی ته بیا په ځیرځیروکتل، خودکابل څه آشنا نښه مې په کې ونه لیده ، الکا انتي یوه درنه کتابچه له خپل بکسه راویسته ، هغه چې ددې ددغه نوي سپي ټوله تاریخچه په کې لیکل شوې وه : «... دوی دواړه په جوړیې سپیو نامتو وو...» یوځای داهم لیکل شوي وو چې امریکایانو غوښتل دغه نوی نسل سپي چې همدلته یې موندلي وو و روزي ، ځکه دوی فکرکاوه چې که دغه نسل دلته کار ورکړ، نوبیا به ددغه متل ترسرلیک لاندې چې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

« دوطن سوی دوطن تازی نیوی شي ...» دغه کارته دوام ورکړي ، دوی د سپیولپاره یوځانګړي ترینګ پروګرام ترلاس لاندې نیولی و خوداسې ښکاره شوه چې دامریکایانودغه طرحه غلطه وختله ، همداوه چې پرخپله دغه طرحه یې کرښه راویسته ، دوی پردې پوه شول چې دوی یوهم دامریکایی پوځیانود موخو دعملي کیدو وال نه دي اونه لکه دهغوی داصلي سپیوپه څیر دندې ترسره کولای شي ... ځکه خواوس له هغو دوو جوړییو یو الکا انتي ته هم ورسیدلی و...
په دغه ورځ چې زما دکوردروازه په بیړه بیړه را وټکیده ، په زړه کې راتیره شوه چې بس داده ، ځکه دې اوس هره شیبه دخپل امریکایانو رټلي سپي په اړه له ما معلومات غوښتل، هرڅه به چې ددې پرسپي باندې تیریدل ، دهغو ټولو خبر به یې ماته ټکي په ټکی را رساوه ... ځکه خو په دغه شیبه کې هم تلولۍ را ننوته ، کڅوړه چې ښکاریده کاغذونه په کې دي راویسته ، وارخطا یې د ډوډۍ پرمیز ډډه راته ووهله او په ژړا شوه ... زه یی هم حیران کړم ، میرمنې ته مې غږ وکړ، چې زر راشه چې څه خبره ده ، هغه زر راووته اوپه غیږکې یې ونیوه ، پوښتنه یې ترې وکړه چې څه خبره ده ؟ ، څه شوې ... ؟ ماخو په پیل کې فکروکړچې نوی سپی یې مړشوی ، ځکه چې ناروغه و، خو هغه هم نه وه ... ځکه چې هغه خو ورسره و ... ښه یې چې ځان په ژړا سترې کړ ، بیا په کڅوړه باندې اخته شوه او هغه پاڼه یې مخامخ زموږ مخې ته کېښوده چېورباندې لیکلي وو :
شمیره : ۴۲۰ ...
رنګ : برګ ، تورپړې زیات ...
نسل : دوه رګی ...
ظاهري څیره : فریش ، تازه ...
ستونزه : په ځان خولې لګول ...
د روزني موده : دونیم کاله ...
پایله : منفي
نورې ځانګړني : باید نور له خپل جوړه څخه بیل شي . ځکه جوړه یې دوه رګی نه دی ، دهغه دسموالي شونتیا لاشته ...
دالکا انتي ژړا همدغه ټکي ته وه ، چې ګواکي دا نورد ښې او بدې نه دي ځکه خو امریکایانوله خپل لیسته غورځولي دی ، دې وروسته موږ ته خپله دا ژوره اندیښنه هم په ډاګه کړه او ویی ویل :
ـ رښتیا مو ویلي وو چې تاسې هلته داسې نسل کله هم نه و لیدلی ...
ما ورته وخندل :
ـ ښه شوه چې معلومه شوه ...ستا دنازولي سپي ستونزه په دې کې نه ده چې ګواکي دوه رګی دی ، لویه ستونزه یی داده چې پرځان خوله لګوي ...
په واخطا څیره یې ترخوله راووتل :
ـ څه شی ؟ هغه یې لاڅه دی ؟
ما بیرته ورغبرګه کړه :
ګوره هلته دده په ریکارد کې امریکایی سپي پالودغه ټکي ته اشاره کړې ...
هغې بیا وپوښتل :
ـ داکومه خطرناکه ناروغي ده ؟
ماځواب ورکړ :
هو، خطرناکه خوده ...
ـ څنګه ؟
ـ کیدای شي دادلیونتوب نښه وي ...
هغې وویل :
ـ خطریي په څه کې دی ، که لیونی شو ، بیا به یی زه مړکړم او یا به یې له کوره وشړم ...
ـ داخو سمه ده ، خو داسې نه شي چې ترڅویی ته چاره ورکوې چې هغه تا لیونۍ نه کړي ..
او الکا انتي سمه دمه په قهرسره له ځآیه پورته اوکورته روانه شوه خو لا یی پښه زموږ له درشلې نه وه دباندې شوې چې په درانه غږ کې یې ترخوله راووتل :
ـ دنیا نوره د دوه رګو سپوده ... هرڅوک هغه خوښوي ، نورهغه درانه درانه خوبونه له یاده وباسئ ... پریږده چې ما وداړي ، ما لیونې کړي ، زه به لومړنۍ څوک وم چې داهرڅه مې دخپل دوه رګي کابلي سپي لپاره پرځان ومنل ...
او دالکا انتي دروند اوقهرجن او دروند غږ له همدغې درنې زمزمې سره زموږ له کوره ورو ورو په تیاره کې له موږ لرې کیده ... خوانګازې یې لاهم راتلې :
ـ دنیانوره د دوه رګو سپو ده ... نورمو هغه درانه درانه خوبونه له یاده وباسئ ... وباسئ ... چې دوه رګو سپوته به مو درناوي نه کاوه ... !!؟

پای

نوی ډیلی، د ۲۰۱۷ کال سپتامبر



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ